مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ع . رشید

۲۰۲۱/۰۸/۱۱

# طالب ته د یوه استاد وروستی لیک
## او وروستی هیله!



طالب جانه سلامونه ،رحمتونه
او د پاک الله لوریني اوبرکتونه!

یومهال مي حکمتیارته لیک ولیکه چي یاره پام کوه، چې امریکا دې نیښونه وباسي، را ولي دې ، خوپام دې باید وي چې داسې به دې د پولی پرک ته کینوي چې په پاتي نیښونواوعابښونو به حلوا هم نه شې خوړلای... نه به دین درپاتې وي اونه هم دنیا ! خودخوارملا په آذان څوک روژه هم نه ماتوي، دیوه استاد لیک به څه وي چې دي به پرهغه باندې خپل پام اوپاملرنه اچوي.په هرډول نوردهغه بحث یوې خواته پریږدو اوله تاسره هم غواړم دزړه وروستی خواله وکړم داسې چې :

**ګرانه ملاجانه ، طالب جانه !**
په یاد به وې چې ځنګه دغه ملت په پټوسترګو اوله بدې ورځې دروسي اوپاکستانی ایراني ملاتړو جهادیان په وړاندې ملاتړدرڅخه وکړ، د برښنا په شان یې ترکابله را ورسولې اوپردغه ګدۍ چې له میرویس خان اواحمدخان ابدالي را میراث شوې وه، کینولي، کابل چورشوی و، کله چې تا تشریف راووړ دګندني له یوځودکانوپرته نورهرڅه دویمې سقاوي چورکړي وو ښارډنګ ډوال ولاړو، داسې چې یوه خوا یې هم د اوسیدو نه وه،ته راغلې، موږ فکرکاوه چې بس نوربه ته وې اوجومات ، ته به وې اود ایمانداریٔ اوحق تدریس، ته به وې مدرسه به وي اومکتبونه، هغه چې دغه ملک دیوې پیړی په اوږدوکې دیوه ترقی غوښتونکي هیواد په توګه درلودل، ځکه یې دخدای اوژغورني فرښته وبللې ... خو لږ وخت تیرنه و،چې ته پرځان شوې اوخپل سازبازدې داسې چې ستا له ارادې دباندې و دنورو په اشاره پیل کړ، اخبارونه دې بندکړل،





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

تلویزیونوته دې سزا ورکړه ، دخبرو والاوو خولې دې وروتړلې، ښځې اونجونې دې په کورکېنولې، عصري علوم دې بابېزه وبلل په یوویشتمه پیړۍ کې دې د دوولسمې اویوولسمه پیړۍ قوانین او زور زیاتي پرهم هغه توردګم ولاړ پیل کړل، دنړیوالوبشري قوانیوضد احکام دې پرته له دې چې زمانه په پام کې ونیسې چالان کړل. دهیواد هیوادپال اودپاکستان د سترګوخار ولس مشرډاکترنجیب الله ستا ترسیوري لاندې آی اس آی ستا په نامه، ستا په لاسودټولو نړیوالو حقوقي اواخلاقي قوانینوخلاف دملګرو ملتوپه پناه ځای کې شهید کړ،دآی اس آی په زوریوپه یو په سپیره پچه سپورشوې اونالیدلی خیالی کشمیردې ولیده کوم ته چې وروته رسیدې ... !



**طالب جانه!**

سمه ده امنیت دې راووست، جنګ سالاران دې لنډي ماران کړل او درنه وتښتیدل، بې ګناه هیوادوال چې په ښاروکې په لاس درغلل هغوی ته دې خپل قوانین وضع کړل، دخلکو په شخصیاتو کې ورننوتې ، د اریکنو په شیشودې د ډېرو کچې پیل کړې، حق الله اوحق العبد دواړه دې پرځان ختم کړل، په جوماتوکې داوبوسستم چې نظارشورا اودوستمي لنډه غرو وران کړی و، اوبه نه وې، تا لمونځ کوونکو ته حاضرۍ واچولې،خلک حیران شول چې داډول نظام په کوم اسلامي هیواد کې روان دی چې موږ ترې بې برخې وواوتاسې له هغه ځایه درسره راووړ؟ ملاتړی مو پاکستان او ای اس آی ول، لږترلږه مو هغوی ته هم ونه کتل چې هغوی په خپل ملک کې څه کوي؟هغه کارونه چې تا دلته پیل کړل، ستا دغه لوی غدارملاتړ پاکستان هغه کړه دخپل هیواد له پاره غوښتل ؟ پرتایی اسلام تطبیقاوه اوخپله یې دنړیوالې دموکراسۍ لنګه غوا لوشله اودهغه دښارنې ذمې یې نړیوالو ته وهلې، پرتایې ښځې سنګسارولی اودوی دهیرامنډیی بدلمنوښځوته قانوني جوازونه ورکول اوهغه یې په اسلامي پاکستان ؟ کې دترقۍ اوپرمختګ اودموکراسۍ لاره بلله ؟



یاره! د هیواد له پاره دې د جوړونې هیڅ ډول پروګرام نه درلود، په سیاست نه پوهیدې، له نړۍ سره دې اړیکې بند شول، ستا دنا خبرۍ اوسرټمبګۍ په خاطرنړۍ بیا هم هغه تا لنډي کړي ماران جنګ سالار ترتا غوره وبلل، له هغوی سره یې اړیکې جوړول،او ډاډ یې ورکړ چې په تاسو (طالبانو) کې ددې هیواد داداري اوسیاسي لارښونې ظرفیت نشته، دوی باید راتلونکې ته سترګې په لارشي لکه چې همداسې وشول، تا ډېرې سمولې اودقرآني ارشاداتو پرځای یوازې داستنجاپه ازموینواخته وې خوهغوی په نړیواله کچه سیاست کاوه، تاهم هغه زوړکلاشنکوف ترتخرګ کړی و، اوهغوی ته له ایران،هند اوروسیې نوې نوې وسلې راتلې، جنګسالارانواویا زره کابلیان ووژل، ټول ښارېې ړنګ کړ، هغوی هم دهمدغه پاکستان اوامریکا لاسپوڅي وو،خوهیچا ورته ونه ویل چې دوی مسلمانان نه دي اویایې کړه وړه غیراسلامي ، دوی دغربیانوپه مټو افغانستان دبربادۍ کندې ته ورواچاوه ،خو برعکس هغوی یې بیاهم ترتاسو وارث اوترتاسو ددې وطن دراتلونکي په ګټه وبلل ، تاته یې سرښوراوه ، هغوی ته یې لاس ورکاوه ، ته یې په خپل ټول صداقت سره بې فرهنګه، زوړ پالی اوبنسټ پالې وبللې اودوی یې ترقي غوښتونکې،هیواد پال اوترتاسو دافغانستان اونړیوالې دموکراسۍ په ګټه وبلل ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



**طالب جانه!**

هغه ورځ دې هم په یاد ده چې ولی نعمت خونړی امریکا مو ۵۲ ډوله الوتکې یې درپسې مارش کړې، رڼا ورځ یې دربانديې توره شپه کړه ، دګندني پردکان راغلي وې ، هم هغسې یې له هم هغه ګندني سره په منډو کړې، داسې چې نه پوهیدې په کومه ووځئ اوپه څه ډول ځان له ښارونو وباسې ، هیرخو به دې نه وې چې ستا مشران دغه چې اوس کله لنډې اوکله اوږدې ږیرې پریږدي ټول خریلي ږیرې وتښتیدل او ته یې ، ستا ورور یې دکابل په کوڅوکې دنظارشورا بدنامو لیوانو ته پریښودئ، له هرې کوڅې اومالته هم کابلیان چې تاسې ښه نه وو ورسره کړي دربانديې راووتل، اوهغه ورځ یې دروښوده لکه چې تاسې بدنامې شورای نظار اوجنګسالارانو ته د تښتې پرمهال ورښودلې وه . کوڅې مو دځوانانو په وینورنګ شوې ، دځوانوطالبانو جسدونه دکابل سپیوهم نه خوړل ، په شمالي کې موچې کوم تلفات ولیدل، په مزار شریف کې چې کومه غمیزه تاریخ رامنځ ته کړه ، د لیلې دښتې د وینو کانتینرونه اوسیلابونه دا ټول هغه څه وو چې ته یې باید دخپلې غلطې پالسئ پایله وبولې، له تاسره پاکستان و، له تاسره ای اس آی و، اوس هم درسره دی، خوهغوی چې ستا دبرخلیک خواشینونکې پایله ولیده بیا یې پرمیدان پریښودې اودوی په خپله لاره ولاړل ، ددې ټولو بدمرغیو لامل څه و؟ یوازې یولامل یې درلود هغه داچې دروښانه خلکو اوملت له تا ملاتړنه کاوه،هغوی له تاسره نه وو، ځکه چې تا دغه وطن ته دجوړونې کوم خاص پلان اودخدمت ژمنه نه درلوده. ستا لویه خطا په دې کې وه چې ځان دې د وطن په لوی اکثریت پورې وتاړه، په داسې حال کې چې هغه اکثریت په دې پوهیده چې ته دهمدغه اکثریت د دښمن (پاکستان ) په ملاتړاواشاره دغې لویې لوبې ته ګمارل شوې یې. پرتا ددې وطن دلوی اکثریت نوم بد شو، اوستا په ګناه یې دغلطو راپورونو اوشخصي عقدي پربنسټ په زرګونو لومړی ووژل، دویم یې بې عزته کړل ، دریم یې ګوانتانامونه واستول اوڅلورم یې ستا طالب او القاعدې ټاپه پرې ولګوله اوله هرڅه ، ښوونې او روزنې ، اقتصادي اوټولنیزې ودې، مدني حقونواو نورو ټولوشونتیاوو اوآسانتیاوویې بې برخې کړل چې لړی تراوسه پورې روانه ده، ته اوس هم ښوونځی سیځې اومعلم په دارځړوې خو جنګ سالاران په زده کړو پسې لومړی خپل اولادونه،بیا خپله کورنۍ اوقام خارج ته استوي... تیرشل کلونه یې څرګنده بیلګه ده...

**طالبه جانه !**

زه د ختیزدنامتونابغه،عالم اوپوهاند اکادیمسن علامه عبدالشکور رشاد نادان شاګرد یم، هغه چا چې له تاپې ملاتړوکړاوله تاسره یې خپل یووالي یوازې په دې خاطراعلان کړچې تا په هیواد کې دشراوفساد ترخه اوتوره لړۍ چې دخدای ، اسلام اووطن بې عزتې یې وکړه پای ته ورسوله ، هغه په سپینه ږیره یوازې دهیواد د ژغورنې په خاطراوددې هیواد دملي اواسلامي نوامیسودخوندي ساتلو په خاطرددې هیواد دملي پالي ویښ زلمي اوروڼ اندې غورځنګ دغړي په توګه درسره یوځای شو، خو ته خبرې چې ستا په ( دیره دون ملیټري کالج ) کې روزل شوي کمونست شوروي پلوه عباس خان ( اوسنی ستانکزي ) په یوه علمي غونډه کې په ډیرې بې احترامئ سره پرده اودده په ملي غورځنګ (ویښ زلمیانو) باندې غیرعلمی اوغیراخلاقی تعرض وکړچې هغه یې هم په عام محضرکې په ځواب کې وویل چې:« زه ویښ زلمي وم ، یم او وم به » هغه په دې نظرو چې وطن په ویښوزلمیانوودان نه شي په (ګوډملایی تفکرخو ګردسره نه ودانیږي ...)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



هو، ستا په نامه دا ډول بې عزتې شوې ، دا تیروتني شوې، ځکه خو اوس درته وایم ، درته لیکم چې که پرهغه خره سپورلکه چې وې هیواد ته راځي، باوروکړه چې داخل به (نه سره اوښان وويني اونه ناصرخان ) دښمن اوس هم ستا هردم اوقدم څاري، که سیاست کوې، نوماکیاول صاحب ولوله، که سیاست کوې نوبیا لکه سیدحمال الدين او موسي شفیق غوندې چې باوردی دوی ترتاسو لوی اسلامي مدهبی عالمان وو دسیاست میدان ته راګډ شۍ اوشعوري سیاست وکړئ، هم پګړی وتړه اوهم دریشي واعونده، دوطن سیاست له یوچا زده کړه، دوطن په پوهانو، استادانو اوعالمانو پسې داریکین شیشي مه را اخله، داوطن یوتاریخي لرغوني اسلامي وطن دي، څوک داسلام له دایرې دلته دباندې نه شي تلای، ان هغوی چې تاسو کمونستان بلل باوروکړئ چې هغوی هم دخپل ځان اوخپلې کورنی له منځه اسلامی ارزښتونه لري نه شوای کړای برعکس هغو ته یې ترتاسوښه احترام او درناوی دخپل اند وژوند د لومړیتوب په توګه منلی ول. لمونځ یې کاوه، قرآن یې زده و، مړي یې په اسلامي اصول ښځیدل، فاتحې په جوماتونوکې اخیستل کیدې،جوماتونه یې جوړول ...هیله من یم چې ړانده تبلیغات یوې خواته پریږدې لاس دې خپل غوږ ته ور وړه ، په آوازو اوډنډورو پسې مه ځغله چې هم به ځان دخنداکړې اوهم به جهان درپورې خاندې... ! وخت دی چې ځان باید په علم اوربښتیا اودعصرپه رمز پوه کړې ... !!

**طالب جانه !**

جګړه بنده کړه، له انتحاراوځان وژنې سره دتل له پاره خدای پامانی وکړه، ځکه چې دادواړه توکه پرتا تپل شوي اوته یې ددغو ناوړوکړو دعملي کولو له پاره وسیله کړې یې... نوردپردیودغې غلامی ته د پای ټکی کیږده... اوس دې له ماتوشویوامریکایانوسره د اوږو پزه پیداکړې ده. دغه چانس په تش غروراوسرټمبګۍ اووژنوله لاسه مه ورکوه، اوس دآزموینې وخت دی ، په دې پوه شه چې تراوسه هم لامعلومه نه ده چې ته به د افغانستان په راتلونکې سناریوکې اصلي لوبغاړې وې که نه ؟ خبره ډیره درنه ده، تاسوخپلوکې یوه خوله ، یولاس اوپه یوه ژمنه نه یاست... په دغه لویه ناپوهي چې ستا په استازیتوب عباس ستانکزی په خپلوغیرمسوولو لاپوشاپو آسمان په توپونولي، ماته د افغانستان شرې پرتاسوباندې اوړده ښکاري، په دغه باره کې زما مشوره درته داده چې ،



افغانستان هرڅه چې دی اوس دحکومت په نامه یوجوړښت دحکومت لري ، قانون که څه هم حاکم نه دی شته دی، نړی باورپرې کړی، ته دچا ( اشرف غني اوعبدالله ملي ضد توطیواوګوډاګیوکړو) ته مه ګوره ، یوازې دافغانستان اساسي قانون وپیژنه اودهغه مطابق دملت په خاطراودعصردرمزپه خاطرنورملت په ملي احساس سره دغه افغانستان دترقی اوجوړونې سیند ورګډ شه، خوړلي نه شکر ایستل پریږده، که په تا کې په ربښتیاهم څه وي، دلته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

يې وښيه ،خلک به دې وګوري، نړۍ به دهم وګوري ، که رښتياهم تا داتوان درلود چې دا وطن اداره کولای شې،دغه وطن ته د ابادۍ اوترقۍ چانس ورکوۀ ،ښځې دسنګسار پرځای کاراوزده کړې ته هڅوې، ښوونځي جوړوې اوددغه هيواد دنوي نسل د روزنې نيت درسره وي، په روڼ اندي اوتحصيل کړي قشر دکفراوالحاد ټاپه نه وهې نوترتا به بله ملايکه د افغانانو له پاره چيرې وي ؟ څوک به وي چې ستا ملاتړونه کړي ، څوک به وي چې تاته به دسيدجمال الدين، موسي شفيق داود خان، ملاعمر، ډاکترنجيب اوطاهرشاه په سترګو ونه ګوري اوڅوک به وې چې تا د يوه نړيوال زورځواکي په وړاندې د آزادۍ اومقاومت وروستی پاسوال ونه بولي ؟



طالب جانه ، ملاجانه !
دا وه ديوه استاد اومعلم هيله چې له تاسره يې يوازې دخدای، وطن،افغانيت اوپښتونولي د ژغورنې په خاطردنړۍ په خورا سختوشرايطوکې چې « هزار زخمونه مې په زړه دي ... » شريکه کړه، هيله ده چې لږ وړاندې تاريخ ته وګورې، دخپل تاريخ وياړنو ته وګورې ، غلجيا ن لوديان درياد کړه شيرشاه دريادکړې، ميرويس درپه ياد کړه، احمدشاه دې مخې ته ودروه اوپه پرتم يې وویاړه په اصفهاڼ ، ډيلي، مرکزي آسيا، کشميرکې را ښکيله امپراتوري درياده کړه ... چې ماته ، تاته ، موږ ته تراوسه پورې ديوه ژوندي ملت دهنګامي شور اوشرنګ را کوي. زه تاته ، تاسوته اوټولو هغوی ته چې دا وطن ورباندې ګران دي دهيلي لاس اوږدوم چې څلويښت کاله دلته افغان بربادېږي ، وژل کيږي ، خرڅيږي اواخستل کيږي ، نوره دغه لړۍ پای ته ورسوئ ، لږ را ويښ شئ ، لږ رحم وکړئ اولږ د تاريخي غلو، دلالانو اونړيوالې نشه يي مافيا په وړاندې په يوه ملي هوډ سره يوموټی شئ اودغه هيواد دپرديو باندنيواوننيو معاملو له ښکيل څخه وساتئ اوکه نه دوحشت دغه تورتوپان په داسې بې رحمۍ سره را روان دی چې بيابه نه افغان وي ، نه به اسلام وي اونه به افغان او افغانستان وي نورمو خوښه !؟
**په جهان کې هرڅوک يوځله په مرګ مري**
**زه بې مرګ مرم نه يوځل زمان زمان**
(خوشال بابا)

**يو استاد ـ هند**
**د شل شل کال ۲۳**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ